مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد عارف رسولي

۲۰۱۹/۰۱/۰۶

# په هېواد کې د غوره نظام جوړول ستونزې

د افغانستان بنسټيزې ستونزې دادي چې موږ په فکري لحاظ ډېر ويشل شوي يو، د ملي نظام جوړولو هنر مو بيخي نه دی زده او دا مو په ټولنيز او سياسي ژوند او کلتور کې يو کمښت دی. دا ستونزه زموږ د ټولنې په سياستوالو، مدني فعالانو، روڼ اندو، قومي شوراګانو، ګوندونو، روحاني شخصيتونو او دولتي دولتي چارواکو کې شتون لري. زه دلته قومي شوراګانو او سياسي ګوندونو ته نه ځم او بل ځل به وربانديې خبرې وکړو او يوازې د د مدني، فرهنګي او فکري ټولنو په حال به يو څه دردونه له دوستانو سره شريک کړم.

د هېواد د نظام له شړېدو وروسته اوس د ملت د بيا رغونې او نظام جوړونې زياتې هيلې په ځوانو کادرونو پورې تړلې دي. خو په خواشينۍ سره د پخوانيو ناخوالو له کبله زموږ لوستي چې زيات يې ځانته روڼ اندي او روشنفکران هم وايي، په څو ډلو ويشل شوي دي. يو شمير يې چې اوس په موسسو کې کار او يو څه ښه ژوند لري، يو غوږ يې در کړئ او بل ديوال، په ټولنيزو فعاليتونو کې برخه نه اخلي، وايي چې څوک ربنتيني نه دي، له سياست سره مينه نه لري، د ګوندونو او ډلو ستونزو ته اشاره کوی او ناهيلي دي، خو خپله هم کوم مسؤليت نه مني. دوی فکر نه کوي چې د ملک سياست ټاکي چې څنګه سياسي بنسټونه ولري او سياسي بنسټونه د هغه ملک اقتصادي بنسټونه ټاکي او هغه د هېواد د پرمختګ کچه ټاکي. دا لوستي نه د تعليمي نظام په ښه کولو کې د کنړي کادرونو په څير ونډه اخلي، نه کوم فکري او کلتوري مرکزونه رامنځته او يا له نورو سره کار کوي. منو چې دوی مصروف دي، خو په ټوله دنيا کې چې په هره کوڅه او محله کې خلک په ټولنيزو، سياسي ستونزو او دولتي پاليسيو بحثونه کوی او حل لارې و خپلو سياستوالو او دولتي چارواکو ته وړاندې کوي، په زرهاوو مرکزي او فرهنګي مرکزونه فعال وی، د خلکو سياسي شعور لوړوي، د کرکو او تعصباتو په وړاندې مبارزه کوي او د ملي ګټو او ارزښتونو لپاره کار کوي، خو دوی هم بېکاره نه دي او تر موږ زيات فعال دی، باور دادی که څوک تنده ولري ټولنيز چوپړ ته وخت پيدا کولای شي. زموږ نور لوستي د خاصو سليقوی او کېدای شي ايديولوژيکي لاملونو له کبله بيا په نورو او يو بل زيات بدګمانه او ويشل شوي دي او دا د ګډ کار موخه نيسي. هر ګروپ مو هېوادنيو ستونزو ته له يوې ډېرې وړې کړکۍ ګوري او د بل چا خبره نه مني او نه د ګډ لرليد، مشترکو موخو او کار کومه تنده لري. تر څو موږ د منل شوو اصولو په چوکاټ کې مشارکت ته تنده پيدا نکړو تل به همداسې در په در او محتاج وو.

ځينې لوستي مو يوازې په ننيو بهرنيو تجربو او علومو تاکيد کوي، زموږ ټولنيز ، ديني، کلتوري، ټولنيزو جوړښتونو او واقعيتونو ته نه ګوري، خبر نه وي چې ټولنيز بدلون خپلو ځانګړو ټولنيزو شرايطو ته اړتيا لري او بهرني فرمولونه هلته کار نه ورکوي، خو زموږ يو شمېر سخت دريځه کسان چې د تيرو رېژيمونو ايديولوژيګانې نه هېروي، په ستونزو او بنسټيزو ستونزو يې ځان نه پوه کوي او د دوی چرګ يوه پښه لري. د دې زيات لامل دادی چې زموږ په ټولنه کې د سياسي سترو پېښو د علمي ارزونو او ورنه د زده کړو دود نشته نو خپلې تيروتنې بيا بيا تکرارووو.

زيات ديني تصور لرونکي بيا يوازې د يو څه سرسري ديني تعليم سپارښتنه کوي، يوازې په ثوابونو پسې ګرزي، د قرآن اصلي مضمون او موخه چې د انسان جوړونه او نيکبختي ده او ثواب او د خدای ج رضا ټول په ځان کې نغاړي، څوک نه بېژني. پخواشينۍ سره، دوی ليک، لوست، په ژوره توګه په قرآن، سنت او د دين په روح پوهه چې بيا ښه تعليم، د ځوانانو تحليلي توان لوړولو، د علمي ، منل شوو دعوتي او په پسته ژبه د دين رسولو، زغم، يو بل منلو، د نورو علومو مرسته له قرآني پوهنې سره، د نظام جوړونې روا، سوله ايزې، ازمويل شوې او اغيزمنې لارې زده کولو او ټولنيزو علومو، تاريخ او ساينس ته، هم اهميت نه ورکوي. زموږ دا کلتور نه پرېږدي چې په موږ کې ستر ستر داسې کادرونه چې په ديني پوهه، اوسنيو علومو او نظام جوړونه کې تخصص ولري رامنځته شي، نو کله چې ځينې ځوانان چې په بهر کې يې زده کړې کړې وي، په کومه قضيه پوه نشي او يا تيروتنه وکړي، ټول يې ملامتوي، خو خپل کلتوري او ښوونيز نظام او خپل ځانونه نه ملامتوو.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

همدارنګه، داسې نور بېل بېل انګېرنې موږ له یو بل سره بېلوي او موږ ته اجازه نه راکوي چې په ټولنو کې خپل ولس او هېواد ته بنسټيز کار وکړو، ځينې کسان مو چې کله له کوم ګروپ سره کار پيل کړی د یوه او یا بل فکر لرونکو کسانو انرژي او ژمنه کمه او مرسته پرېږدي.

په سياست کې مو همدا حال دی. ځينو روڼ اندو مو په ډېر قوت يوه خوا او نورو نورې خواوې نيولې، دوی ته د خپلو ډلو کړنې که له هرڅومره ناکاميو سره مخ هم شي، ملت يې ونه مني، هېڅ کوم ګټور کار ونه کړي او په خپل ملت کې پردي هم شي، ګناه يې نه ويني، نيوکه نشي وربانديې کولای، بلکه پوله ورته جوړوي او توجيه کوي يې او د دوی ډلې نورې هم له حقيقتونو ليرې کوي. د دې يو لامل کېدای شي داوي چې زموږ ډلې بريا ته د رسيدو لپاره کوم مناسب او علمي لرليد، په مشارکتي توګه ټاکل شوې موخې، کړنلاره (پاليسۍ) او د پلي کولو تګلارې (ستراتېژۍ) نه لري چې فعاليتونه او د ځوان کهول قضاوتونه سم رهبري کړي او له انحرافه ځان وساتي، له همدې کبله تر څه وخت وروسته يوه وړه حلقه بې ځايه او د اکثريت د غوښتنو خلاف پرېکړې کوي او خپل زيات غړي ورنه پردي کيږي، يو شمېر پلويان او غړي يې تر ډېره په يو څه خالي شعارونو او زيات وختونه په تعصباتو او کرکو رامنځته کولو له ځان سره ساتلي وي، نو سم قضاوت نشي کولای او په پټو سترګو له خپلې ډلې ننګه کوي تر څو هغه د نابودۍ کندې ته ور ولوېږي او تيت پرک شي.

زموږ روڼ اندي او لوستي، د دې په ځای چې د اوږدو جنګونو په لړۍ کې د ملک او نظام د ويجاړتيا په علتونو ژور فکر وکړي، نړيوالې تجربې مطالعه کړي، د حقايقو او ممکنو حل لارو موندنو هڅه وکړي، يو په بل نومونه اېږدي، سياسي رسۍ کشوي، بازاري چال چلند کوي خو خپله نه پوهېږي او ځان ورته مبارز ښکاري، په دولت کې په لوړ پست کارکوي خو غواړي له مخالف لوري سره هم لين دين ولري او د حزب اختلاف غوندې تقريرونه کوي، زه د دې ستونزې لامل دا بولم چې زموږ په ملک کې سياسي فرهنګ او اړونده نهادونه يې پوره نه دي پاخه شوي، د ښو سياستوالو او سياسي فعالينو لپاره تر اوسه سياسي اخلاق، د کړنو معيارونه، سياسي تقوا او نور نه دي رامنځته او بنسټيز (نهادينه) شوي، تر څو د هغوي په خواصو کنټرول ولري او رهبري يې کړي. بايد ووايو چې ستونزه په هغو کسانو کې زياته ده چې ځانته شنونکي او روڼ اندي وايي، په سياسي مشرانو ملي زعامت کې که په دولت کې دي او که ورنه بهر چې ملي ننګونو او اختلافونو د حل لپاره د يوه رغنده سياسي ډيالوګ په رامنځته کېدو کې پاته راغلي. د ګډ لرليد، مشترکو موخو او کار کومه تنده لري.

تر څو په دې اړه مشترک ليد لوری او د ګډ کار لارې ونه مومو او د پراختيايي پوهې او تحربو په رڼا کې د هر اړخيزو پروګرامونو له لارې د خپلې ټولنې ملي ناخوالې و نه ارزوو او حل لارې و نه مومو همدا به مو حال وي.

د دې په هيله چې په ملت کې مو رښتينې ويښتيا، ټولنيز او سياسي شعور رامنځته شي او خپلې ستونزې حل کړو.

بايځينې يوازې په ننيو بهرنيو تجربو او علومو تاکيد کوي، زموږ ټولنيز ، ديني، کلتوري، ټولنيزو جوړښتونو او واقعيتونو ته نه ګوري؛ زيات ديني تصور لرونکي بيا يوازې د يو څه سرسري ديني تعليم سپارښتنه کوي، خو ليک، لوست، په ژوره توګه په قرآن، سنت او د دين په روح پوهه چې بيا ښه تعليم، د ځوانانو تحليلي توان لوړولو، د علمي ، منل شوو دعوتي او په پسته ژبه د دين رسولو، زغم، يو بل منلو، د نورو علومو مرسته له قرآني پوهنې سره، د نظام جوړونې روا، سوله ايزې، ازمويل شوې او اغيزمنې لارې زده کولو او ټولنيزو علومو، تاريخ او ساينس ته اهميت نه ورکوي او داسې نور بېل بېل انګېرنې موږ له يو بل سره بېلوي او موږ ته اجازه نه راکوي چې په ټولنو کې خپل ولس او هېواد ته بنسټيز کار وکړي د يوه او يا بل فکر لرونکو کسانو انرژي کمه او مرسته پرېږدي.

په سياست کې مو همدا حال دی. ځينو په ډېر قوت يوه خوا او نورو نورې خواوې نيولې، د دې په ځای چې داوږدو جنګونو په لړۍ کې د ملک او نظام ويجاړتيا په علتونو ژور فکر وکړي، نړيوالې تجربې مطالعه کړي، د حقايقو او ممکنو حل لارو موندنو هڅه وکړي، يو په بل نومونه اېږدي او بازاري چال چلند کوي، په دولت کې په لوړ پست کارکوي خو غواړي له مخالف لوري سره هم لين دين ولري او د حزب اختلاف غوندې تقريرونه کوي، زه دا ستونزه په هغو کسانو کې زياته ګورم چې ځانته شنونکي او روڼ اندي وايي او مشرانو کې چې ملي ننګونو او اختلافونو د حل لپاره د يوه رغنده سياسي ډيالوګ په رامنځته کېدو کې پاته راغلي.

تر څو په دې اړه مشترک ليد لوری او د ګډ کار لارې ونه مومو او د پراختيايي پوهې او تحربو په رڼا کې د هر اړخيز و پروګرامونو له لارې د خپلې ټولنې ملي ناخوالې و نه ارزوو او حل لارې و نه مومو همدا به مو حال وي

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ